ورځپانه
هیواد
مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
یکشنبه د ذوالحجة الحرام ۲۵ مه ۱۴۴۶ق کال، د چنګاښ لومړی ۱۴۰۴ ل کال، د جون ۲۲ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۷۱ یمه، پرله پسې ګڼه ۷۳۴مه، اتمه دوره

**ذبیح‌الله مجاهد:**

# د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د راپور موندنې حقیقت نه لري

د افغانستان د اسلامي امارت ویاند مولـوي ذبیح‌اللـه مجاهد د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي: (( د ملګروملتونو له آدرسه یو درې میاشـتنی راپور خپور شوی، چې د افغانستان په اړه ناسم معلومات پکې خپاره شـوي او هڅه شوې، چې د افغانستان د اوسني وضعیت په اړه تشویشونه رامنځته شي.)) ښاغلي مجاهد دغه راپور په کلکه رد کړی او د ناسـمو معلوماتو پر اسـاس او د پروپاګنـد کولو په منظـور یـې چمتو شـوی راپور ګڼلی دی. د اسلامي امارت ویاند ټینګار کړی، چې په افغانسـتان کې امنیـت اوس له بل هر وخته ښـه شـوی او خلک پـه ارامه ژوند کـوي. په اعلامیه کې لیکل شوي: (( متأسفانه چې له ملګرو ملتونـو او ورته نورو ادرسـونو څخه همیشـه د افغانستان په اړه ناسـم تصویر وړانـدې کېږي او هڅه کېـږي، چې د افغانسـتان حـالات خراب وښـودل شي، په پرمختګونو سترګې پټې شي او د کوچنیو پېښو په غټو ښودلو سره خلکو ته اندېښـنې پیـدا شي.)) دغه‌راز د ملګرو ملتونو ... ۳مخ

# د نفتي توکو د کیفیت لپاره د ۵۷ سټنډرډونو او ازمایښتي کړنلارو تصویب



د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال مـلا عبدالغنـي بـرادر اخونـد په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا څلورمه فوق‌العـاده غونډه پرون په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه .ملا عبدالغني برادر اخونـد ویـلي: دا فوق‌العاده غونـډه د عالیقـدر امیرالمؤمنـین (حفظه‌الله ) د دې حکم پر بنسـټ چې: (( د سـټنډرډ ملي اداره او د بې کیفیتـه تېلو د مخنیـوي پلاوی دې په ګډه افغانسـتان ته د واردېدونکو تېلو لپاره په لسـو کاري ورځو کې نوی نـورم جوړ کړي او موږ ته دې راولېږي.)) ... ۳مخ

# مولوي امیرخان متقي استانبول کې د اسلامي همکاریو سازمان غونډه کې ګډون وکړ


د افغانسـتان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي ترکیې ته سـفر کړی او هلته یې د اسـلامي همکاریو سـازمان غونډه کې ګـډون کـړی دي. د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتـو او عامه اړیکو رئیس حافـظ ضیاء احمد تکل پـه دې اړه وایي، چې ښاغلي متقي اسـتانبول ته رسېدلي دی او پرون یې د اسـلامي همکاریو سـازمان د بهرنیـو چـارو د وزیرانـو ۵۱مه غونډه کې ګډون وکړ .ښـاغلی تکل زیاتوي، چې د بهرنیو چارو وزیر بـه غونډې ته د وینا ترڅنګ د ګنو هېوادونـو د بهرنیو چارو وزیرانو سره د ناسـتې په څنډه کې پر دوه اړخیزو او سیمه‌ییزو مسایلو هم لیده کاته ولـري. دغـه راز: د افغانسـتان د بهرنیو چـارو وزارت خبر ورکـړی، چې مولوي امیرخان متقي په اسـتانبول کې د ازبیکسـتان د بهرنیو چارو وزیر بختیار سـعیدوف سره کتلي. د یاد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس حافظ ضیاء احمد تکل په دې اړه وایي، چې په دې ناسته کې په ګنو برخو کې د افغانسـتان او ازبیکسـتان پر دوه اړخیزو اړیکو، په ځانګړې توګه پر سیمه‌ییز اتصال، افغان ټرانس او دوه اړخیزې سوداګرۍ خبرې وشوې. د یادونې وړ ده، چې




د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي د اسلامي همکاریو سازمان د بهرنیو چارو وزیرانو ۵۱مه غونډه کې د ګډون په موخه د ترکیې هېواد ته په سـفر تللی دی.

# افغانستان له روسیې څخه د غذایي توکو برابرولو په لټه کې دی

د ایـران او اسرائیلـو ترمنـځ جګـړې او لـه ایرانـه د غذایي توکـو وارداتو کـې د اختلال له کبله اسـلامي امارت له روسیې د غنمو واردولـو په لټه کې دی. د کرنې اوبـو لګولو او مالدارۍ وزیـر مولـوي عطاءالله عمري ویلي: افغانستان دامهال له روسیې سره د اوړو پر ځای د غنمـو واردولو پر سر مستقیمې خبرې کوي. ښاغلي عمري رویټـرز سره خبرو کـې ایـران کـې د ۴.۵ میلیونـو افغان کډوالو د برخلیک



پـه اړه اندېښـنه ښـودلې او په خبره یـې، د جګـړې پراخېدو په صـورت به افغان کـډوال له جـدي ګواښـونو سره مخ شي. نوموړي ټینګار کړی: اسـلامي امارت تـه ایران کـې د افغانانو امنیت ځانګـړې اهمیت لري او هغوی ته هر ډول زیان رسـېدل د افغانستان د خلکو لپاره د منلو وړ نه دی.افغانستان هر کال ۶.۸ میلیونـه ټنه غنمو تـه اړتیا لري، چې لـه دې ډلې یې ۴.۸۴ میلیونه ټنه په کـور دننـه تولیدیږي او پاتـې یې لـه بهرنیـو هېوادونو واردېږي.

# بلخ کې د نشه‌يي توکو د قاچاق په تور د ۶۰۰ تنو نیول

د بلخ امنیتي مسـئولین وایي، چې د تېر یـوه کال پرمهال یې دغه ولایت کې نږدې ۶۰۰ کسان د نشه‌يي توکو د قاچاق او پلور په تـور نیولي دي. د بلـخ امنیه قومنداني پرون رسـنیو ته ویلي، چې د تېـرکال پرمهال دغه ولایت کې د نشه‌يي توکو د پلور او قاچاق په تور ۵۹۶ کسان نیول شوي دي. د بلخ امنیه قومندانۍ له لوري په خپره شوې خبرپاڼه کې همدارازویل شـوي، چې له نیول شـویو کسانو څخه ۷۶۱ کیلوګرامه نشـه‌يي توکي او ۵۴۲ لېټره الکولي څښاک ترلاسه شـوي دي.د دوی په وینا: نیول شوي نشـه‌يي توکي سوځول شوي دي.پر دې سربېره په خبرپاڼه کې ... ۳مخ

# افغان او روسي چارواکي په افغانستان کې د بندونو پر جوړولو غږېدلي

د کرنې اوبو لګولـو او مالدارۍ د وزیر مولوي عطاءالله عمري په ملتیا افغان پلاوی د روسـیې د اقتصادي کنفرانس په څنډه کې د دغه هېواد د انرژۍ وزارت له مرسـتیال پاول سورکین او نورو چارواکو سره کتلي دي. دواړو لوریو افغانسـتان کې د اوبو بندونو جوړولـو، د تخنیکي



انجنیرانو د استولو او د اوبو لګولو د نویـو ټکنالوژیو پـه برخه کې د تجربـو د تبادلې پـه اړه بحث او نظرونه تبادله کړي. افغان وزیر له روسي لوري غوښتي، چې په افغانستان کې د اوبو بندونو جوړولو او په ځانګړي ډول د غزني ولایـت د سردې بند پاتې پروژې په بشپړولو کې همکاري وکړي. د افغانسـتان د کرنې وزارت د خبر له مخې روسي لوري څرګنده کړې، چې ژر بـه د پـروژو د ارزونې او خبرو لپـاره د دوی تخنیکي ټیمونه افغانسـتان ته ولېږل شي او د اړینو همکاریو ډاډ یې ورکړی. یـاده دې وي، چـې دې کتنـه کې دواړو لوریو همداراز هوکړه کړې، چې تخنیکي ټیمونه دې د لا زیاتې همغـږۍ، تجربو شریکولـو او د اوبو سرچینو د مدیریت لپاره دواړو هېوادونو ته واستول شي.

# بریتانیا د افغانستان لپاره ځانګړی استازی وټاکه

د بریتانیا دولت د افغانستان په چارو کې د خپل ځانګړي استازي په توګه ریچارد لیندسي ټاکلی، چې دا اقدام د کابل او لندن ترمنځ د ډيپلوماټیکو اړیکو پـه لړ کې یو مهم پرمختګ ګڼـل شـوی دی. د THXNews د راپور پر بنسټ، ریچارد لیندسي د روانې میاشتې (جون) له پیله د بریتانیا د ځانګړې استازولۍ چارې پر مخ وړي. لیندسي د بریتانیې له پیژندل شویو سیاسي څېرو څخه دی، چې له دې وړاندې یې هم په افغانسـتان او پاکسـتان کې د سـیاسي او امنیتي ماموریتونو تجربه لرلې ده. د نوموړي د ګمارنې اقدام د بریتانیا د سیاستونو په نقشه کې یو مهـم بدلون بلل شـوی او د افغانسـتان په اړه د لندن دریځ ته د نوې ستراتیژۍ بڼه ورکوي. یاده دې وي، چې له دې وړاندې د قزاقستان



ولسمشر هم تېره اوونۍ د افغانستان لپاره ځانګړی استازی وټاکه، چې د اسـلامي امارت له تاوده هرکلي سره مخ شو.

# فراه کې یو سړک جوړېږي

د فراه ولایت په انار درې ولسـوالۍ کې د ۵ میلیونو افغانیو په لګښـت د یوه سړک د جوړولو چارې پیل شوې دي. د یاد ولایـت د کلیو د بیارغونې او پراختیا د رئیس مفتي محمد نسیم سرهنـګ په خبره ، یاد سـړک د یو خیریه بنسټ په مالي ملاتړ د ۵ میلیونو افغانیو په لګښـت د دوو میاشتو په موده کـې جوړېـږي. د نوموړي په وینا، دغه سړک ۵ کیلو متره اوږدوالی او ۱۰ متره سور لري، چې په جوړېدو سره به یې د سیمې د اوسېدونکو لپاره ګڼې اسانتیاوې برابرې شي.
د یادونـې وړ ده، چې د دغه سـړک په جوړېدو سره به نه یوازې د ځایي اوسـېدونکو سـتونزې هوارې شي، بلکې لسـګونو کسـانو ته به د کار زمینه هم برابره شي. باختر

# د چین او سویلي اسیا نندارتون؛ ۸۸ غرفو کې افغاني محصولات ننداري ته وړاندې شوي

د چین او سـویلي اسـیا نهم نړیوال نندارتـون لا ورمـه ورځ د دغـه هېـواد پـه کومنینګ ښـار کې د افغان سـوداګرو په ګډون پرانیستل شـو. افغان سـوداګرو په ۸۸ غرفو کـې د غالیـو، لاسي صنایعو، وچې مېـوې او زعفرانو په ګـډون خپـل بېلابېل محصـولات ننـدارې ته وړانـدې کړي دي. دغه نندارتـون کې د نړۍ لـه ۵۴ هېوادونو ۱۴۰۰ شرکتونو ګډون



کړی دی. افغان غرفه لرونکي، علي میثم وویل: (( ډېر خوښ یم چې سږ کال مې وکولای شوای دغه ننداړتون کې ګډون وکړم، څکه ومو کولای شـوای، چې د ۲۹ نـورو هېوادونو ترڅنګ خپل محصولات ... ۳مخ

# د پنجشېر ۱۵ نویو ساحو کې د زمردو د استخراج پیل

د پنجشـېر د کانونو او پټرولیم ریاسـت مسـئولین وایي، چې د دغه ولایت په حصه اول ولسوالۍ کې د زمردو لـه ۱۵ نویو ساحو څخه د زمردو د اسـتخراج چارې پیل شوې دي.



د یـاد ولایـت د کانونـو او پټرولیم رئیس مولوي محمد قاسم امیري باختراطلاعـاتي آژانـس ته ویلي چـې په دې وروسـتیو کې د یاد ولایت د حصه اول ولسوالۍ په مربوطاتو کـې د زمردو ۲۱ نوې سـاحې د مسـلکي او تخنیکي ټیمونو له لوري کشف او تثبیت شـوي دي. نوموړي زیاته کړه، چې د یادو سـاحو له ډلې څخه یې ۱۵ ساحې د رسمي جوازونو لـه ترلاسـه کولـو وروسـته د استخراج پړاو ته ... ۳مخ

# هرات کې د ۱۰۰ روږدو کسانو درملنه

د هرات د امنیې قوماندانۍ مسئولین وایـي چې د دغه ولایـت د روږدو په کمپ کې د ۱۰۰ روږدو کسـانو درملنـه شـوې ده. د یـاد ولایت د امنیـې قوماندانۍ د نشـه یي توکو پرووړانـدې د مبـارزې مدیرمولوي حیات الله روحـاني باختر اطلاعاتي آژانس تـه ویلي چې دغـه روږدي کسـان د یـاد ولایت د ښـار او ولسـوالیو لـه بېلابېلـو سـیمو څخـه راټـول او له یـو کلنې درملنې وروسته له خپلو کورنیو سره ځای شوي دي. نومـوړي زیاتـه کړې، چـې یوازې د تېرې اوونۍ په بهیر کې د یاد ښار له بېلا بېلو سیمو څخـه ۱۷۰ تنه نور روږدي کسـان راټول او په یاد کمپ کې تر درملنې لاندې نیول شوي دي.



د یادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په حاکمیـت سره په ټول هېواد کې د نشه یي توکو کرکیله، قاچاق، پېر او پلور منع شـوي او په دې سره په نشـه یي توکو د اخته کسانو شمېر هم را کم شوی دی.

# کنـــدهـــار کـــې د اوبـــو بنـــد جـــوړېـــږي



د کندهار د ارغنداب ولسـوالۍ پـه بابـرکلي کـې د خلکـو په شـخصي لګښـت پـه ۲۷ میلیونـو افغانیـو د اوبـو د یوه کوچنـي بند د جوړېـدو چـارې پیل شـوې. د سیمې اوسـېدونکي وایي چې د بنـد جوړېدل بـه د اوبو زېرمه‌کولو لـه لارې د وچکالۍ اغېـزې کمـې کړي او پـه وینا یې، د کرنې لپاره بـه دوامداره اوبه برابرې کړي. دوی زیاتوي، چې د بند پـه جوړېدو سره به د سیمې اوسـېدونکي وکولای شي چې یو ځل بیـا په خپلو ځمکو کې کرنـه پیل کړي. د کندهار د ارغنداب ولسوالۍ اوسېدونکی اغالالا وایي: (( موږ اوس اړ یو چې دغه بند جـوړ کړو، ځکه وړانـدې دلته د کاریـز له اوبو څخه د ځو نورو کلیو بڼونه هم خړوبېدل، خو اوس اوبه نشته، نو که دغه بنـد جوړ شي، زموږ اوبه، به زیاتې او حاصلات به مو زیات شي.)) په ورته مهال د یادې ولسـوالۍ یو بل اوسـېدونکی پردل خان وایي: ... ۳مخ

## سرلیکنه



# د علم د ودې لپاره لا زیاتو هڅو ته اړتیا ده!!

په هر ملت کې د پرمختګ بنسټ د علم پر ستنو ولاړ وي. هغه ټولنې چې د تعلیم او تربیې ارزښت درک کوي، نه یوازې د تمدن او پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېږي، بلکې د خپل راتلونکي نسل لپاره هم روښانه سباوون برابروي. افغانستان چې له څو لسیزو شخړو، بې‌ثباتیو او ناخوالو سره مخ و، اوس د علم د ودې او د پوهنې د بنسټیزو اصلاحاتو له لارې هڅه کوي، چې خپل ولس ته د علم رڼا ورسوي.

د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې په برخه کې د پام وړ اقدامات ترسره کړي، چې د سلګونو نویو ښوونځیو او مدرسو د جوړېدو ترڅنګ، زرګونه زیانمنې شوې تعلیمي ودانۍ هم رغول شوې دي. دا ګامونه د راتلونکې د جوړولو بنسټ زېري ورکوي او د ملت د علمي خپلواکۍ لپاره بنسټیز حرکت بلل کېږي.

د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې د پراختیا او معیاري کولو لپاره خپلې هلې ځلې ګړندۍ کړې دي. د پوهنې وزارت د معلوماتو پربنسټ په تېرو نږدې څلورو کلونو کې د هېواد په کچه څه باندې ۱۱۰۰ ښوونځي او مدرسې د نویو ودانیو له نعمته برخمنې شوې. دا ودانۍ د وزارت په بودیجه او همدارنګه د علم‌دوستو ملي سوداګرو، مرستندویو بنسټونو او خلکو په مالي همکارۍ جوړې شوې دي. دغه راز، د طبیعي پېښو او بې‌ثباتۍ له امله د زیانمنو شویو ۳ زره ښوونځیو بیارغونه هم د پوهنې وزارت له مهمو لاسته راوړنو څخه ده، چې د هېواد د تعلیمي بهیر تسلسل ته دوام ورکړي. دا ښيي، چې د علم بنسټیزو جوړښتونو ته پوره پاملرنه شوې او هڅه کېږي، چې هېڅ زده کوونکی د مناسب تعلیمي چاپېریال له نشتوالي سره مخ نه شي. سره له دې چې د حکومت هڅې د ستاینې وړ دي، خو لا هم له دې ډېر کارته اړتیا شته. هر ښوونځی باید معیاري کمپیوټر لابراتوار، کتابتون او د ښوونکو لپاره عصري تدریسي وسایل ولري، ځکه چې د نړیوال پرمختګ او د معاصر تعلیم معیارونه د ټکنالوژۍ، مفاهموي تدریس او معلوماتو پر بنسټ ولاړ دي. د نوي نسل ذهني ودې ته یوازې فزیکي ودانۍ نه، بلکې عصري امکانات، با استعداده ښوونکي او تشویقي فضا هم ضروري ده. د پوهنې پرمختګ یوازې د حکومت مسئولیت نه دی. لکه څنګه چې د ښوونځیو ودانۍ د ملي سوداګرو، مرستندویو ادارو او عامو خلکو په مالي همکارۍ جوړې شوې، نو دا ښيي، چې ټولنه د علم ارزښت درک کوي. دا یو ملي ویاړ دی. په ټولیزه توګه، د افغانستان اسلامي امارت د پوهنې د پیاوړتیا لپاره چې کوم اقدامات کړي، د ستاینې وړ دي. د سلګونو نویو ښوونځیو او مدرسو جوړېدل، د زرګونو زیانمنو شویو تعلیمي مرکزونو بیارغونه، او د زده‌کوونکو د اسانتیاوو لپاره دوامدارې هڅې د دې ښکارندویي کوي، چې دا هېواد د علم پر لور روان دی، خو دا به یوازې هغه وخت بریا وګڼل شي، چې پر فزیکي جوړښتونو سربېره، د تعلیم کیفیت، درسي مواد، تخنیکي وسایل او بااستعداده ښوونکي هم برابر شي، د علم د ودې او د راتلونکي د جوړېدو دا لاره، د ملت، دولت او علم‌دوستو خلکو ګډ مسئولیت دی. همدغه ګډې هڅې افغانستان ته یو روښانه سباوون ډاډمنولی شي.

# اسلامي امارت او نړیوال نقد؛ حقایق، ارزښتونه او درناوی

رحمت الله فیضان

د ۲۰۲۵ م کال د جون پر ۱۹مه، ملګرو ملتونو یو کلنی راپور خپور کړ، چې پکې د افغانستان پر روان وضعیت نیوکې شوې او ډېر کم واقعیتونه په لنډو او عمومي جملو کې بیان شوي دي. سره له دې چې د افغانستان اسلامي امارت له هر ډول اصولي او غیرسیاسي نقد څخه ویره نه لري، خو باید وویل شي چې دا ډول راپورونه باید یو اړخیز نه وي، بلکې د ځمکنیو واقعیتونو پر بنسټ، له سیاسي تمایلاتو پاک او د مسلکي معیارونو مطابق ترتیب شوي وي .

د راپور یوه اساسي ادعا دا ده چې د افغانستان بشري وضعیت د اسلامي امارت د سیاستونو له امله خراب شوی، حال دا چې د نړیوالو مرستو کمېدل، د خیریه بنسټونو پر فعالیتونو محدودیت، دوامدار سیاسي فشارونه او ظالمانه بندیزونه یې اصلي عوامل دي. اسلامي امارت نه یوازې د نړیوالو مؤسسو لپاره لازم امنیت برابر کړی، بلکې د شفافیت او همکارۍ روحیې ته هم تل ژمن پاتې شوی دی.

د عدلي نظام په برخه کې راپور نیوکه کړې، حال دا چې اوسنی عدلي نظام د اسلامي شریعت پر اصولو ولاړ دی. هغه سزاګانې چې د معتبرو شرعي دلایلو له مخې صادرېږي، د جرمونو د مخنیوي په برخه کې یوه مؤثره او مجربه لاره ده. د اسلامي قوانینو پر بنسټ ورکړل شوې سزاګانې غندل، د افغان ملت د دیني او ملي ارزښتونو ښکاره سپکاوی بلل کېږي. ټول هېوادونه د خپلو قوانینو مطابق مجرمانو ته، آن تر اعدامه پورې، سزاوې ټاکي. اسلامي امارت هم د شریعت له مخې، عدلي اصول تطبیقوي.

د ټول شمولیت په برخه کې راپور دا اندېښنه څرګنده کړې چې ګواکې اسلامي امارت ټولګډونه حکومت نه دی، حال دا چې د امارت ادارې د بېلابېلو قومونو، سیمو او قشرونو له استازو څخه جوړې دي. دا مهال نږدې نیم میلیون کسان چې اکثره یې د جمهوریت د وخت مامورین دي په لوړو او ټیټو مناصبو په دولتي چوکاټ کې کار کوي. په ټولو ولایاتو او ولسوالیو کې د قوم له مشرانو او علماوو څخه شوراګانې جوړې دي چې هم حکومت ته مشورې ورکوي او هم د حکومت کړنې څاري، د شایسته سالارۍ پر بنسټ هر هغه څوک چې وړتیا ولري، حکومت ته لاره مومي. بدبختانه، د ټول شمولیت مفکوره هم د غربي زاویې له مخې تعریفېږي، چې موخه یې د استخباراتي کړیو یا د دوی د خوښې اشخاصو ځای پر ځای کول دي، نه د ملت استازیتوب.

د امنیت په برخه کې، راپور یو نیمګړی تصویر وړاندې کړی. حقیقت دا دی چې نن افغانستان د تېرو څو لسیزو په پرتله له ټولو زیات امن دی. داعش، چې یوه نړیواله مخربه ډله ده، سخته ځپل شوې، د دوی پټنځایونه له منځه وړل شوي او د قدرت مافیایي کړۍ له صحنې ایستل شوې دي. له هراته تر تورخمه او له بولدک څخه تر حیرتانه، امنیتي وضعیت د پام وړ ډاډمن شوی دی. که دا امنیت «ناکافي» ګڼل کېږي، نو د ملګرو ملتونو د کامل امنیت تعریف هم باید روښانه شي.

د مخدرو توکو پر وړاندې مبارزه هغه بله برخه ده چې راپور پکې یو نیمګړی تصویر وړاندې کوي. سره له دې چې د کوکنارو پر کرلو بندیز ستایل شوی، خو د کیمیاوي مخدراتو د تولید پر زیاتېدو اندېښنه څرګنده شوې ده. باید ووېل شي چې د کوکنارو بندیز د اسلامي امارت له خوا یو تاریخي او شرعي اقدام و، چې د سیاسي امتیاز لپاره نه، بلکې د دیني مکلفیت پر بنسټ ترسره شوی دی. له مخدراتو سره قاطع مبارزه د اسلامي امارت دیني او اخلاقي مسئولیت دی، که نړیوال بدیل معیشت برابروي او که نه. د کډوالو په برخه کې هم، اسلامي امارت مسئولانه چلند غوره کړی دی. د ایران او پاکستان پر پولو ځانګړي خدماتي دفترونه او ځانګې پرانیستل شوې دي او د موقت یا دایمي اسکان لپاره کمپونه ډیزاین شوي دي. یوازې په هرات کې درې ستر کمپونه د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره طرحه شوي دي. سره له دې، نړیوالو مرستندویو ادارو تر اوسه کومه عملي مرسته نه ده کړې.

په پای کې باید ټینګار وشي چې د نړیوالو راپورونو اعتبار هغه مهال تضمینېدای شي، چې پر واقعي سرچینو، متوازنو ارزونو او بې‌طرفه لیدلوریو ولاړ وي. اسلامي امارت چمتو دی چې له نړیوالې ټولنې سره د اصولو پر بنسټ اړیکې ولري، خو دا تعامل باید د احترام، صداقت او متقابل درناوي پر بنسټ وي، نه د اتهامي ژبې او سیاسي فشارونو له لارې.

اسلامي امارت د اسلامي ارزښتونو، ملي ګټو او د ملت د سوکالۍ لپاره خپلې هڅې نه یوازې دوامداره ساتي، بلکې لا یې پسې غښتلې کوي. زموږ دروازې د همکارۍ او رښتیني تعامل پر وړاندې پرانیستې دي – خو پر حقایقو، مشترکو ارزښتونو او دوه‌اړخیز احترام ولاړې اړیکې به تل د تګلارې بنسټ وي.

# له پاکو اوبو سره بې پروا چال چلند د خالق تعالی د نارضایتۍ او د انسانانو د بې آبۍ سبب ګرځي

دویمه برخه

قاضي سید اختیار سباوون

**پاکې اوبه د الله سبحانه وتعالی له ټولو ستر او بې بدیله نعمت دی، د اوبو چټلول او له اړتیا پرته یې ضایع کول د دغه ستر نعمت پر وړاندې کفران یا ناشکري او له ژوندیو مخلوقاتو سره ظلم دی ، چې د خالق تعالی «جلّ شأنه» د نارضایتۍ او له نعمتونو څخه یې د حرمان سبب ګرځي!**

د چینو ، کاریزونو او سیندونو په شکل کې د ځمکې پر سر د روانو اوبو موجودیت یوازې او یوازې د الله پاک سبحانه وتعالی په قدرت کامله پورې منحصر دی، همدا راز د اوبو په ښځنلو کې د اشباع او سقیان تبرک او قوت د خالق تعالی (جلّ مجده ) د ارادې او امر په اساس ایجاد شوی دی چې انسانانو ، حیواناتو، وحوشو، طیورو، حشراتو او نباتاتو او نورو ټولو ته پرېمانه رسېږي، د میوو باغونه او د خوړلو لپاره ډول ډول سبزیجات او حبوبات، ځنګلات، د څارویو لپاره علف او واښه ټول پرې خړوبېږي چې له برکته یې انسانانو ته له ځمکې څخه ډول ډول مېوې او سبزیجات پرې را زرغونېږي.

نو دا هرڅه یوازې د الله پاک (وحده لاشریک له ) په امر، تدبیر او ارادې سره صورت نیسي، که الله پاک (وحده لاشریک ) اراده وکړي چې اوبه د ځمکې په تل کې ورکې کړي یایی د انسان دلاسرسي له توان او وس څخه وباسي نو، له خالق تعالی (ج ) پرته بل هېڅوک په هېڅ نامه او عنوان سره د دې توان نه لري چې اوبه بېرته خلق او یا جوړې کړای شي.

په سورة المؤمنون کې الله پاک (ج) فرمایي: « وأنزلنا من السماء ماء بقدر فأسكنه في الأرض وإنا على ذهاب منه لقادرون» سورة المؤمنون /الآیة ١٨

« فلينظر الإنسان إلى طعامه إنا صببنا الماء صبا ثم شققنا الأرض شقا فأنبتنا فيها حبا وعنبا وقضبا وزيتونا ونخلا وحدائق غلبا وفاكهة وأبا متاعا لكم ولأنعامكم» (عبس، الآیة ٢٥. « وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُم مَّاءً فُرَاتًا» [المرسلات:٢٧].

نو چې دا هرڅه یوازې د الله پاک جلّ عظمته د امر او هدایت پر اساس ترسره کېږي، بیا نو څنګه امکان لري چې د شرک په ارتکاب او یا هم د اسراف او ضیاع له کبله دالله پاک د دغه بې پایانه نعمت ناشکري وکړای شي؟

د اوبو ذکر او د اوبو په برکت د میوه جاتو او نورو نعمتونو د زرغونېدلو د یادولو په پای کې خالق تعالی انسان متوجه کوي او ورته فرمایي چې له الله پاک (ج) سره سیالان او شریکان مه جوړوئ. یعنې شرک مه کوئ.

« وَأَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجَ بِهِ مِنَ الثَّمَرَاتِ رِزْقًا لَكُمْ فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ.»

په دغه مبارک ایت کې د الهي نعمتونو خصوصاً د اوبو د عظیم الشأن نعمت د یادونې په پای کې د شرک د نه کولو یادونه د هغو د شکران د اهتمام لپاره اولواالابصارو ته د دې کنایة او دلیل دی چې د الله پاک د نعمت ناشکري او د هغه د کفران جسارت، له سترو ګناهونو څخه ده، د الله پاک د نعمتونو کفران او ناشکري معمولي ګناه یا خطأ نه ده، بلکې، کفران نعمت د شرک معادل ارتکاب دی، ځکه یې ورته هدایت فرمایلی چې « فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا.»

دا ډېره باریکه مسئله ده، هر مؤمن مسلمان چې دغې باریکۍ ته پام ونه لر ، له اوبو سره بې احتیاطي کوي او د اوبو د استعمال پرمهال له افراط څخه د ځان ساتنې پر ځای، د بې پروایۍ چلند کوي، دا کفران نعمت دی د خپل مهربانه او کریم رب العزة جلّ شأنه د نعمتونو او احساناتو په مقابل کې کفران او ناشکري ده له داسې مسلمان څخه خپل رب ناراضه کېږي او په آخرت کې د دې بې پروایۍ له کبله انسان د خپل، واحد لاشریک، مالک الملک او قادر مطلق اله العالمین له سخت ګرفت سره مخامخېږي. الله پاک جلّ جلاله وعم نوا له دې موږ تاسې او ټولو مسلمانانو اسلافو ته د خپل رحمت او کرم په تقاضا له اوبو سره د بې پروا چال چلند عفوه او مغفرت وکړي او الله پاک (جلّ عظمته ) دې موږ او تاسې او راتلونکو مسلمانو نسلونو ته د دې توفیق را اعطاء کړي، چې پخپله هم د الله سبحانه وتعالی له دغه ستر بې ساري او خوږ حیاتي نعمت اوبو سره په احتیاط چلند خپله وجیبه وګرځوو او نور له دې ستر ارزښت او باریکۍ څخه غافل مسلمانان هم دغه اهمیت ته متوجه کړو . امین

الله پاک جلّ جلاله دې پر موږ ټولو ورحمیږي، ځکه په دغه تقصیر کې ټول ونډه لرو، ډېر مسلمانان له ضرورت څخه زیاتې اوبه کاروي او ضایع کوي یې، څومره چې وړ ده، هومره دغې مسئلې ته پام نه کوي اوهره ورځ په مکرر ډول د اوبو د استعمال په اړه د بې پروایی له کبله د اوبو د ضیاع او د هغو د فاسدولو او چټلولو مرتکب کېږي چې دا کار د الهي نعمت یعنې د اوبو په مقابل کې د شکر پر ځای د هغو د ارزښت سپکاوی او استخفاف دی. له همدې امله د شرک معادل ګناه بلل شوې ده او په اړه یې الله پاک انسان ته فرمایي چې، ای انسانه! ته خو پوهېږې چې د اوبو ستر نعمت چې ستاسې او ستاسې د څارویو د ژوند او رزق د استمرار ذریعه ده، الله پاک دربانده د نعمت په توګه لورولې دی، نو بیا ولې له خپل واحد لاشریک خالق تبارک و تعالی سره شرک کوې؟ « فَلَا تَجْعَلُوا لِلَّهِ أَنْدَادًا وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ» دا مفهوم افاده کوي.

خو بیا هم موږ انسانان اوبه ضایع کوو او په استعمال کې یې زیاتی او افراط کوو چې دا په حقیقت کې د خالق متعال (جل وعلی ) د ناراضه کېدو موجب ګرځي او د حساب کتاب پر لویه ورځ د انسان پر ناکامېدو او ملامت کېدو باندې دلیل او حجة ګرځي.

داچې د دغې ناشکرۍ په بدل کې خالق تعالی( جل شأنه ) پر انسانانو باندې اوبه او نور نعمتونه، نه بندوي، دا د خالق تعالی د رحمانیت تقاضا ده او د رب العلمین بې مثاله سخاوت او اعطاء ده چې څوک یې مخنیوی نشي کولی، الله (ج ) فرمایي چې عاصی او مطیع دواړو ته روزي ورکوم. دا زما سخا او ورکړه ده، څوک یې مخه نشي ډب کولی « كلاً نمدّ هؤلآء وهؤلآء من عطآء ربّک وماكان عطآء ربّک محظورا»

په دې باندې زموږ ایمان دی چې د اوبو قحطي راوستل د الله پاک صلاحیت او اختیار دی، د برکاتو شرحه کوونکې سورت (سورة ملک ) پر همدغه بدیهی حقیقت سره پای ته رسیږي « افرائیتم ان الصبح مائکم غوراً فمن یأتیکم بمآء معین ./ سورت ملک ایه ۳۰

فلهذا هرڅوک چې ځان مؤمن بولي او د الله پاک (وحده لاشریک له ) پر ذات اقدس باندې ایمان لري ، په قران عظیم الشأن ایمان ولري او پر رحمت للعلمین خاتم الانبیاء محمدالرسول الله صلی الله علیه وسلم ایمان ولري او په دې باورمند اوسي چې یوم الحساب شته او الله سبحانه وتعالی به د خپلو نعمتونو په اړه د ذرې ذرې حساب له بندګانو څخه اخلي «ثمّ لتسئلنّ یومئذ عن النعیم» نو د داسې باور او ایمان په شتون کې، هغوی هېڅکله د ابو د ضایع کولو، د اوبو د چټلولو او د اوبو د منع کولو جرئت نشي کولای.

د اوبو په استعمال کې د اسراف د حرمت او د اوبو د ضایع کولو پر خلاف قرانکریم کې بې شمېره صراحتونه او په نبوي مبارکو سنتو او احادیثو کې د حضور پاک صلی الله علیه وعلی اله وسلّم له خوا ګڼ شمېر وصایا او تذکیر راغلی دی حتی په اوداسه او غسل کې د اوبو له اسراف او ضایع کېدو څخه د مخنیوي امر او هدایات د دې خبرې کره ثبوت او شواهد دي چې د اوبو ضایع کول او چټلول د ټولو ژوندیو موجوداتو پر حق تیری دی. ځکه اوبه د ټولو ژوندیو موجوداتو د ژوندانه د استمرار ذریعه الله پاک ټاکلې ده او د ضیاع په صورت کې یې د ټولو ژوندیو موجوداتو پر حق څرګند تیری او د الله سبحانه وتعالی له ټاکل شویو حدودو څخه تجاوز دی.

### د هواپېژندنې ادارې ...

د هواپېژندنې ادارې په خبرپاڼه کې همداراز په ځتیځو، سوېلي، لوېدیځو او مرکزي ولایتونو کې د تېزو بادونو، خاورو او دوړو پېښېدو خبرداری هم ورکړی، چې په بېلابېلو سیمو کې به یې سرعت په یو ساعت کې له ۵۰ تر ۸۵ کیلو مترو پورې وي.

د ویلو وړ ده چې له دې مخکې هم اورښتونو او سېلابونو هېوادوالو ته درانه مالي زیانونه اړولي دي.

### ۵۲۰ افغان از ...

وزارت امور مهاجرین و بازگشت‌کنندگان گفته که این افراد پس از ثبت‌نام و دریافت کمک‌های انساندوستانه به ولایت‌ها و شهرهای اصلی شان منتقل شدند.

وزارت مهاجران، پیش از این گفته بود که از آغاز روند اخراج مهاجران افغان توسط پاکستان در اپریل سال روان، تا اکنون بیش از چهار هزار شهروند افغانستان از زندان‌های آن کشور آزاد و به افغانستان بازگشته اند.

### غزه؛ د اسرائیلي یرغلګرو ...

ټپیان کړي دي . ملګرو ملتونو د امریکا او اسرائیلو په ملاتړ د غزې پر بشري بنسټ نیوکه کړې او ویلي یې دي، چې دا اداره د مرستو په خوندي رسولو کې پاتې راغلې ده. بشري بنسټونو بیا خبرداری ورکړی، چې د غزې اوسېدونکي له سخت بشري ناورین او جدي لوږې سره مخ دي. د غزې د دولتي رسنیو مرکز ویلي، چې د مرستو اخیستلو په هڅه کې تر دې مهاله ۴۰۹ فلسطینیان شهیدان او ۳ زره او ۲۰۳ نور ټپیان شوي دي.

### له پاکستان او ایران ...

انتقال شوي او ۴۷ زره ۴۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده.

د سرچینې د معلوماتو له مخې په ورته وخت کې پرون د سپین بولدک له لارې ۷۹ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۴۳۹ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي. په سپین بولدک کې له ۷۹ کورنیو سره ۶۸۰ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده.

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون په خبرپاڼه کې راغلي، چې د غبرګولي میاشتې په ۳۰ مه نېټه له ایران څخه د نیمروز ولایت د ورېښمو له لارې ۲۳۱ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۱۳۸ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته له ۲۲۱ کورنیو سره ۱ میلیون ۸۶۰ زره افغانۍ مرسته شوې ده او له دې لارې څخه ۷۲ مسافر هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

په ورته وخت کې د جمعې په ورځ د هلمند ولایت د بهرامچې له لارې ۱۱ کورنۍ او د پکتیکا د انګور اډې له لارې ۶ کورنۍ خپل هېواد ته راستنې شوې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، چې په یاده نېټه د هرات ولایت د اسلام کلا له لارې ۸۱۵ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۳ زره ۳۱۲ تنه وو، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او له ۸۷۰ کورنیو سره ۶ میلیونه ۱۵۸ زره افغانۍ مرسته شوې ده. سرچینې همدارنګه زیاته کړې، چې پرون له کابل څخه ۸۱ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۴۳۶ تنه وو، بېلابېلو ولایتونو ته لېږدول شوې دي او یادو کورنیو ته ۲۵۱ زره ۴۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده.د یادونې وړ ده، چې راستنو شویو کورنیو ته د دغه کمېسیون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي هیئت له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډ مهاله مېشتېدنې او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوي ورکړ شوي او ټول ټال ۶۵۵ سیمکارټونه هم پرې وېشل شوي دي.

### د نتانیاهو بانډ سیمې ته ...

سیمه کې اور ته سرعت ورکړي. له دې وړاندې هم ترکي چارواکو ویلي و، چې د یادو هېوادونو روانه جګړه کې به د ظالم پر وړاندې کلک ودرېږي.

### ایران به هېڅکله ...

د ایران د بهرنیو چارو وزیر د ان بي سي خبرې شبکې د یوې پوښتنې په ځواب کې چې ایا په دوو اوونیو کې د ایران د اتومي موضوع د حل لپاره ډیپلوماتیکه لاره پیدا کېدای شي؟ ویلي دي: دا په امریکایانو پورې اړه لري، چې خپل عزم د یوې موافقې لپاره وښيي او که دوی بل نیت لري، چې غواړي پر ایران برید وکړي. دغه‌راز نوموړي ټینګار کړی، موږ نه پوهېږو چې څنګه پرې باور وکړو. هغه څه چې دوی ترسره کړل، په حقیقت کې له ډیپلوماټیکو چارو سره خیانت و.

# افغان اعلانات



**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت حسیب صدیقی لمتید یک عراده موتر پلیت ۹۱۹۴۵-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای عبدالبصیر فرزند عبدالکریم بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۸۸۶

**اطلاعیه فروش موتر**

اسامی محترم شرکت نوین احمدی لمتید یک عراده موتر پلیت ۵۳۱۳۷-۲ ش کابل نوع تیوتا کرولا جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای میوند فرزند حیا جان بفروش رسانیده است.
بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۱۸۹۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک قطعه جواز مالیات دکان همراه با رسید بانکی به اسم مجتبی تابش فرزند عباس علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۸۹۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم منمکه مقبل فرزند اصیل شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالرحمن محمودی فرزند محمود شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عزیز الله محمدی فرزند احمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد هادی شریفی فرزند عبدالعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله سعیدی فرزند میر جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۴۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ننگیالی صافی فرزند گلبدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۴۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شیرین گل دوستی فرزند شعبان علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۴۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کفایت الله صافی فرزند برکت شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ریس خان کوچی فرزند اصیل خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بخت یار فاتح فرزند سلمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۴۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ابراهیم ارچی وال فرزند محمد ستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهتاب کاموی بنت محمد ظاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۴۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عایشه صافی بنت سجاد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نورحیا صافی بنت محمد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید جمال الدین نیازی فرزند امیر جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ناظم نوری فرزند شاهد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۷۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امین الله تیموری فرزند حسن رضا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد سلیم پاینده فرزند محمد ظاهر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد قاسم نظری فرزند سردار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حامد ابراهیمی فرزند محمد امیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذاکر الله صافی فرزند عبدالفتاح مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم روح الله سلطانی فرزند محمد اسحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نقیب الله حیدری فرزند غلام حیدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فریما صدیقی حیدری بنت میر محمد اکلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم امیر حسین اخلاقی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سیف الله عظیمی فرزند الله داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عصمت الله مومنی فرزند عبدالجلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ناصر رسولی فرزند غفار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۱۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسین حسینی فرزند صفر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۱۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ایوب فرزند خان پاد شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۳۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبید الله هوتک فرزند محمد رحیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۳۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب محمدی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۰۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صبغت الله نوری فرزند بادام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۰۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد جلال رضایی فرزند محمد تقی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۱۰۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اجمل خان مومند فرزند محمد امین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۹۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد انور شریفی فرزند حسین علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ید الله حسینی فرزند حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۴۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مصطفی فضلی فرزند فضل الرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمعه فقیری فرزند سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۵۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید نادر حسینی فرزند سید آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۱۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی آرا حبیبی بنت محمد یاسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۴۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام داود اکبری فرزند غلام سخی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور محمد محمدی فرزند غلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید نظیف صافی فرزند عبدالسلام مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رضا نبی زاده فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مرتضی فیاض فرزند خداداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حسن الله فرزند یار گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید روح الله موسوی فرزند گل آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مبین شینواری فرزند معاون شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله مجددی فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید الرحمن ځدران فرزند نیرمک مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۴۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام دستگیر محمودی فرزند شاه محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۴۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکمت الله نبی زاده فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مسعود محمدی فرزند محمد گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زینب نایاب بنت محمد حریق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم علی جان رحیمی فرزند محمد جمعه مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۵۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عمر نصیری فرزند محمد شریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۶۵۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نظر محمد نظری فرزند علی محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مزمل خیرخواه فرزند نور رحمان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اشکان علوی فرزند فیروز احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۷۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عصمت الله غلامی فرزند یوسف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۵۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد طارق سردار فرزند نصر الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خدا داد هدایت فضلی فرزند باز محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد یونس شامل فرزند محمد صابر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی نبی زاده فرزند محمد جواد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمت الله احمدی فرزند حیات الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۷۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فاطمه رسا بنت محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رویا رسا بنت داود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۷

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نقیب الله مرادی فرزند خان آقا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام یحیی حسینی فرزند غلام حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم واکمن تره کی فرزند غلام محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۴

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ارشاد احمد احمدی فرزند عبدالقادر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۰۵۷۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید حسن موسوی فرزند سید اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۸۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور محمد افضلی فرزند محمد حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالصادق صافی فرزند عبدالمالک مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ذکی رحیمی فرزند عبدالمسیح مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۰

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذین الله احمدی فرزند محمد اکبر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۸

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیاو الله الکوزی فرزند خواجه آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۴۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحمت الله راولی فرزند جانعلی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۳

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نجیب الله انوری فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۲

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد ویس یوسفی فرزند قاضی ملنگ مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۱

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد حسین شکوری فرزند اسحق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۵۹

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم خوشید صفدری فرزند یوسف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۶

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالفتاح قادری فرزند عبدالاحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۵

**اطلاعیه مفقودی**

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مجتبی سعیدی فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۱۲۰۶۴

---

## د افغانستان په اړه ...

په راپور کې جنايي پېښې هم امنيتي پېښې تعبير شوي، حال دا چې دا ډول جنايي پېښې په نورو هېوادونو کې له افغانستان څخه ډېرې کېږي. مولوي ذبيح‌الله مجاهد خپلو خلکوته ډاډ ورکړی، چې د بهرنيو مغرضو کړيو په خوله د خپل هېواد د امنيت او ثبات په اړه اندېښمن نشي، افغانستان له هر وخته ډېر امن دی او خلک د شرعي نظام تر سيوري لاندې ارام ژوند کوي. يوازې د تېر لوی اختر په شپو او ورځو کې تر دوه ميليونه افغانانو په هېواد کې د ننه سياحتي سفرونه کړي، چې د امنيت، ثبات او د خلکو د ارامۍ د احساس څرګندونه کوي.

## د نفتي توکو د کيفيت لپاره ...

جوړه شوې ده. نوموړي زياته کړې، په هېواد کې د اقتصادي ثبات او د عامو هېوادوالو د روغتيا خوندي ساتلو په موخه اسلامي امارت د بې‌کيفيته وارداتو د کنټرول لپاره يو لړ مهم او ګټور ګامونه پورته کړي دي. ښاغلي برادر ويلي، چې دا هڅې نه يوازې د داخلي بازار کيفيت ته وده ورکوي، بلکې د مصرفوونکو باور هم پياوړی کوي.
دغه‌راز نوموړي د معيار او کيفيت ارزښت ته په اشارې سره زياته کړې: اقتصادي ثبات ته د رسېدو او پر ځان د بسيا افغانستان لپاره معيار او کيفيت بنسټيز ارزښتونه دي. د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال ويلي: معياري کول نه يوازې د صنعت، سوداګرۍ، کرنې او توليداتو د کيفيت تضمين کوي، بلکې دا د صادراتو د زياتولو، د مصرف کوونکو د حقوقو د خونديتوب او نړيوالو بازارونو ته د لاسرسي لپاره يوه حياتي اړتيا ده. د ملا عبدالغني برادر اخوند په خبره، د افغانستان اسلامي امارت د سټنډرډ عالي شورا له لارې هڅه کړې، چې د هېواد په کچه د معيارونو په برخه کې منظمې پاليسۍ جوړې او يو همغږې، شفاف او د اعتبار وړ سيستم رامنځته کړي، څو د هېواد ټول سکټورونه ترې ګټه واخلي.
د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال د سټنډرډونو د تطبيق کمېټې ته سپارښتنه کړې، ترڅو د سټنډرډ عالي شورا له لوري تصويب شوي سټنډرډونه او د ازمايښت کړنلارې په ښه ډول تطبيق کړي. همداراز خصوصي سکټور ته هم سپارښتنه شوې، څو په خپلو توليداتو او وارداتو کې معيارونو او د سټنډرډ عالي شورا له لوري د تصويب شويو سټنډرډونو تطبيق ته جدي پاملرنه وکړي او خپل راپور دې د رياست‌الوزراء له اقتصادي معاونيت سره شريک کړي. د سټنډرډ عالي شورا په دې فوق‌العاده غونډه کې د نفتي توکو په برخه کې شپږ سټنډرډونه او ۵۱ ازمايښتي کړنلارې تصويب شوې دي. دغه سټنډرډونه د ډيزلو، پټرولو، مايع ګاز او پايدار کاندنسات ګاز اړوند دي، چې تصويب يې د نفتي توکو د کيفيت د لوړولو په لور مهم ګام بلل کېږي.

## بلخ کې د نشه‌يي توکو ...

راغلي چې ۳۰۳۰ روږدي کسان هم د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې مديريت له لوري راټول شوي.له يادو روږدو کسانو بيا دوه زره او ۱۲۱ کسان روغ او بېرته له خپلو کورنيو سره يوځای شوي دي.

## د پنجشير ۱۵ نويو ساحو کې ...

رسېدلي او په ۶ نورو برخو کې يې کار روان دی.
د نوموړي په وينا په دغه ولايت کې د زمردو څه باندې ۱۷۰۰ کانونه ثبت شوي او تراوسه پورې څه باندې ۶۰۰ کانونو د استخراج جوازونه ترلاسه کړي او د نږدې ۳۰۰ کانونو د استخراجولو چارې روانې دي. د يادونې وړ ده، چې دغه اقدامات د پنجشېر د زمردو د استخراج او د صادراتو د زياتوالي او د ياد ولايت د اوسېدونکو د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره ترسره شوي دي.

## د چين او سويلي ...

دلته ننداری ته وړاندې کړو او ډېر پېرودونکي جلب کړو.)) بل غرفه لرونکی، محمد جان وايي: ((دغه نندارتون د افغاني توليداتو په ځانګړې توګه د غاليو لپاره ډېر مهم دی. د دغه راز نندارتونونو له لارې موږ کولای شو خپلې غالۍ وپلورو او نوي تړونونه وکړو.)) بله‌خوا، د افغانستان د غاليو د توليدوونکو او صادروونکو ټولنه دغه نندارتون نړيوالو بازارونو ته د کورنيو توليداتو په تېره بيا د غاليو د ور پېژندلو او له بهرنيو سوداګرو سره د اړيکو جوړولو په برخه کې يو غوره فرصت بولي. د غاليو د توليدوونکو او صادروونکو ټولنې عامل رئيس، عبدالمنان حيدري په دې اړه زياته کړه: «مهم مسايل دا دي، چې چين د نړۍ دويم اقتصاد دی، نو موږ کولای شو هلته اوږدمهاله پېرودونکي جلب کړو.)) د چين کومنينګ نندارتون د سيمې يو له سترو سوداګريزو نندارتونونو دی، چې هر کال اسيايي او ځينې نور هېوادونه پکې ګډون کوي.

## کندهار کې ...

((که چېرې دغه بند وتړل شي، نو شااوخوا لس زره کورونه به ورسره آباد شي، دلته اوس آن د اوداسه لپاره اوبه نه پيدا کېږي.))بله‌خوا د ياد بند تخنيکي چارې د کندهار د ټولګټو رياست له لوري پرمخ وړل کېږي. د ياد رياست د معلوماتو له مخې، بند به ۲۳۰ متره اوږدوالی او ۱۵ متره لوړوالی ولري چې د جوړېدو چارې به يې د ځايي خلکو له لوري ورکړل شي. د پروژې انجنير عصمت‌الله راحت وايي: ((دغه بند د خلکو په شخصي لګښت جوړېږي چې ۲۳۰ متره اوږدوالی او ۱۵متره لوړوالی لري، چې د ۲۷ ميليونو افغانيو په ارزښت د شپږو مياشتو په موده کې جوړېږي او د يو اعشاريه دوه ميليونه متره معکبو اوبو د زيرمه کولو وړتيا لري.)) د نوموړي په وينا: د بند په جوړېدو سره به د ځمکې لاندې اوبو سطحه لوړه شي او دا به د وچکالۍ له امله له‌منځه تللې کرنه يو ځل بيا راژوندۍ کړي او خلک به د کرنيزو حاصلاتو له لارې اقتصادي ثبات ته ورسېږي.

## افغانستان له چين سره ...

انجنيرۍ او ټکنالوژۍ په برخو کې د تحصيلي بنسټونو ترمنځ د علمي او څېړنيزو همکاريو پراخېدو ته ليوالتيا لري. دغه‌راز نوموړي په علمي او اکاډميکو برخو کې د چين ولسي جمهوريت برياليو تجربو ته په اشارې په بېلابېلو په ځانګړي ډول د طب، کرنې، انجنيرۍ او ټکنالوژۍ برخو کې د دواړو هېوادونو د تحصيلي بنسټونو ترمنځ د علمي او څېړنيز مشارکت د تبادلې غوښتنه کړې ده.
د يوبل خبر له مخې، مولوي عبدالسلام حنفي د چين د کرنيزو علومو له اکاډمۍ او د درملو له تحقيقاتي مرکز څخه ليدنه کړې، د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د چين د يون نان ولايت د کرنيزو علومو له اکاډمۍ او د کومنيګ ښار د درملو تحقيقاتي مرکز څخه ليدنه کړې. ښاغلي حنفي د دې ليدنې پر مهال په دغو مرکزونو کې د کرنيزو او د نړۍ د طبي علومو په برخه کې ترسره شوي علمي تحقيقات د مهمو اکتشافاتو او لاسته راوړنو له ډلي بللي او د افغانستان له علمي او تحقيقي مرکزونو سره يې د ذکر شويو مرکزونو د علمي او تحقيقي تجربو د شريکولو غوښتنه کړې ده.

## ايران پر اسرائيلي ...

او توغنديو څخه ګټه اخيستل شوې ده. سپاه پاسداران ټينګار کړی، چې دا ترکيبي او ګټور عمليات به دوام ولري. د نړيوالو رسنيو د راپورونو له مخې، له دې بريدونو وروسته د تل‌ابيب ښار په سويل کې اور لګېدلی دی. د ايران د توغنديزو بريدونو پر دوام اسرائيلي ورځپاڼې يديعوت احارونوت ليکلي، چې د اسرائيلي رژيم د دفاعي سيستم د توغنديو زېرمې په خلاصېدو دي او که جګړه دوام وکړي، ښايي ډېر ژر د توغنديزو بريدونو په مخنيوي کې پاتې راشي. له دې وړاندې واشنګټن پوسټ هم په يوه راپور کې ويلي و، چې د امريکا له ملاتړ پرته د اسرائيلو دفاعي سيستم له ۱۰ څخه تر ۱۲ ورځو زيات د ايران د توغنديزو بريدونو مخه نشي نيولای. په ياد راپور کې اټکل شوی و، چې د اسرائيلو دفاعي سيستم هره شپه شاوخوا ۲۸۵ ميليونه ډالره لګښت لري.

## د کابل پولي تخنيک ...

د چين د ښانګهای درجه بندۍ سازمان د نړۍ د شاوخوا ۲۵ زره پوهنتونونو ارزونه کوي اويوازې هغه پوهنتونونه چې ډېر لوړ معيارونه پوره کړي، د دوی په نړيوال نوملړ کې شاملېږي.

# Hewad Daily

دورځپانو رئیس : انجنیر عُزیر «بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲۶۳٤۰
مسئول مدیر : شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲٥
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸٥۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل افغانسان
داړیکو شمېره: ۲۵۲۶۳٤۰ - ۰۲۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپانې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
وېب سایټ: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۷۳۶۰۶۰۷۳-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹

یکشنبه د ذوالحجة الحرام ۲۵ مه ۱٤٤٦ق کال ا د چنګابښ لومړۍ ۱۴۰۴ ل کال ا د 2025م کال د جون ۲۲ مه


مولوي عبدالسلام حنفي:

## افغانستان له چین سره د علمي او څېړنیزو همکاریو پراخېدو ته لېوالتیا لري

د اسلامي امارت د ریاست الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي د خپل رسمي سفر په ترڅ کې د چین د یون نان پوهنتون له رئیس ښاغلي ما وینګهوېي، د کونمینګ د ساینسي علومو او ټکنالوژۍ پوهنتون له رئیس ښاغلي جیانګهونګ، د یون نن د قومي مطالعاتو پوهنتون له رئیس لیو قینګجیانګ، د کونمینګ طبي پوهنتون له مرستیال ښاغلي لي لیهوا، یو شمېر اکاډمیکو شخصیتونو، استادانو، چیني او افغان محصلینو سره لیدنه




کړې. په دې لیدنه کې، دواړو لوریو د افغانستان او چین د پوهنتونونو ترمنځ د علمي او څېړنیزو اړیکو رامنځته کولو، د سیمینارونو جوړولو، د علمي، څېړنیزو او ټکنالوژیکي تجربو د تبادلې او د روزنیزو او روغتیایي همکاریو په اړه خبرې کړې دي. مولوي عبدالسلام حنفي د چین له لوري د اسلامي امارت د پلاوي له تاوده هرکلي مننه کړې او د افغانستان د روان وضعیت، د امنیت د ټینګښت، د پانګونې او سوداګرۍ د فرصتونو، د نشه‌يي توکو د کر، قاچاق او استعمال د له منځه وړلو، د اداري فساد د مخنیوي او د معتادینو د راټولولو په اړه معلومات ورکړي دي. نوموړي د چین د علمي او اکاډمیکو بنسټونو بریالۍ تجربې ستایلي او ویلي یې دي، چې افغانستان له چین سره په ځانګړې توګه د طب، کرنې ... ۳مخ

## ایران پر اسرائیلي رژیم ۱۸مه څپه بریدونه کړي

د ایران سپاه پاسداران په یوه خبرپاڼه کې ویلي، چې پر اشغال شویو سیمو یې د « وعده اشغال شوي فلسطین په مرکز او بن ګورین هوایي ډګر کې نظامي موخې او د صهیونیستي رژیم د



صادق۳» عملیاتو ۱۸مه څپه بریدونه کړي دي. د خبرپاڼې له مخې، په دې بریدونو کې د عملیاتي ملاتړ مرکزونه په نښه شوي دي. په دې عملیاتو کې له بې‌پیلوټه الوتکو ... ۳مخ

## د کابل پولي تخنیک پوهنتون په نړیواله درجه بندۍ کې مهم ځای خپل کړی

د انګلستان د لوړو زده‌کړو د نړیوالې درجه بندۍ سازمان د نړیوالې ارزونې د وروستي راپور له مخې، د کابل پولي تخنیک پوهنتون د نړۍ د زرګونو تحصیلي بنسټونو په منځ کې مهم مقام تر لاسه کړی. یاد پوهنتون د اقلیمي بدلون په برخه کې ۲۰۱ نمبر نړیوال مقام او د ارزانې او پاکې انرژۍ په برخه کې ۳۰۱ نمبر نړیوال مقام تر لاسه کړی دی. د لوړو زده‌کړو وزارت وايي، چې دا پایلې یې د انګلستان له یاد سازمان څخه د رسمي ایمیل له لارې ترلاسه شوې دي.باید وویل شي، چې هر کال د نړۍ دوه معتبر بنسټونه – د انګلستان د لوړو زده کړو نړیوالې درجه بندۍ سازمان او ... ۳مخ



## ترکمنستان او اروپايي ټولنه پر افغانستان غږېدلي

د ترکمنستان د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال، احمد قربانوف د افغانستان لپاره د اروپايي ټولنې د بهرني سرویس له مدیرې «پاولا پامپولوني» سره د افغانستان پر وضعیت خبرې کړې دي .د ترکمنستان د بهرنیو چارو وزارت وايي، چې په دې کتنه کې دواړو لوریو په افغانستان کې د امنیت او دوامدار پرمختګ په اړه بحث کړی. په دې کتنه کې د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال، احمد قربانوف ویلي، چې هېواد یې



د افغانستان د بشري مرستو د لېږد له پروسې ملاتړ کوي. د سرچینې د معلوماتو له مخې په دې کتنه کې همداراز د لویو زیربنايي پروژو، لکه د ترکمنستان-افغانستان د ریل پټلۍ د جوړولو او د انرژۍ او ټرانسپورټ د نویو دهلیزونو د جوړولو په اړه هم خبرې شوې دي. په کتنه کې احمد قربانوف او پاولا پامپولوني د ترکمنستان او اروپايي ټولنې ترمنځ د علاقې وړ مسئلو په اړه د همکارۍ د دوام لپاره خپل چمتووالي څرګند کړی دی. د ویلو وړ ده چې ترکمنستان له دې مخکې هم په بېلابېلو برخو کې له افغانستان سره د ملاتړ ډاډ ورکړی دی.

## د هواپېژندنې ادارې ۶ ولایتونو کې د اورښت اټکل کړی

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هواپېژندنې ادارې د هېواد په شپږو ولایتونو کې د اورښت او سېلابونو اټکل کړی دی. دې ادارې پرون په خبرپاڼه کې ویلي چې نن یکشنبه په نورستان، کونړ، لغمان، ننګرهار، پکتیا او خوست ولایتونو کې د تالندې برښنا او سېلابي اورښت اټکل شته.
د هواپېژندنې ادارې په بېلابېلو سیمو کې د اورښت کچه له ۱۰ تر ۳۰ ملي مترو پورې اټکل کړې ده. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ... ۲مخ

## ننګرهار کې د ۸ لوبډلو ترمنځ د کرېکټ سیالیو پیل

د ننګرهار د بدني روزنې او ورزش ریاست په همکارۍ د یاد ولایت په شېرزادو ولسوالۍ کې د اتو لوبډلو ترمنځ د کرکټ شپږاوریزې سیالۍ پیل شوې دي. د یادو سیالیو لومړۍ لوبه د طوطو سده خېلو ځوانانو او پټلو ستار لوبډلو ترمنځ ترسره شوه، چې د لوبې پچه طوطو سده خېلو لوبډلې وګټله او لومړی یې د توپوهنې پرېکړه وکړه او په ټاکلو لسو اورونو کې یې د پنځو لوبغاړو په سوځېدو سره سیالې لوبډلې ته د ۱۴۲ منډو هدف وټاکه، خو په مقابل کې پټلو ستار لوبډلې د اوو لوبغاړو په سوځېدو سره یوازې ۹۰ منډې وکړې او لوبه یې د ۵۲ منډو په توپیر وبایلله.
د یادونې وړ ده، چې دغه سیالۍ به شاوخوا دوه اوونۍ دوام وکړي.

## ۵۲۰ افغان از زندان‌های پاکستان آزاد شدند

وزارت امور مهاجران و بازگشت‌کنندگان، اعلام کرده که در روزهای اخیر ۵۲۰ شهروند افغانستان که در زندان‌های پاکستان بازداشت شده بودند، آزاد و به کشور بازگشته اند.
این وزارت، دیروز در خبرنامه‌ای نوشته که این افراد از ۲۸ تا ۳۰ جوزا از زندان‌های مختلف پاکستان آزاد شده اند.
به گفته وزارت مهاجرین و بازگشت‌کنندگان این افراد، از طریق گذرگاه‌های مرزی سپین‌بولدک در کندهار و تورخم در ننگرهار وارد افغانستان شده اند.
اداره‌های انتقال مهاجران در



این گذرگاه‌ها گفته اند که افراد یادشده، در بخش‌های مختلف پاکستان یک تا سه روز در بازداشت بوده اند ... ۲مخ

## غزه؛ د اسرائیلي یرغلګرو بریدونو کې ۸۲ فلسطینیان شهیدان شوي

د الجزیرې د راپور له مخې، لا ورمه ورځ په غزه کې د اسرائیلي یرغلګرو د بریدونو له امله لږ تر لږه ۸۲ فلسطینیان شهیدان او ګڼ نور ټپیان شوي دي.له دې جملې څخه په مرکزي او سویلي غزه کې د مرستو په موخه پر راټول شویو فلسطینیانو هم برید شوی، چې لږ تر لږه ۳۴ کسان پکې شهیدان او ګڼ نور ټپیان شوي دي.صهیونیستي یرغلګرو پرله‌پسې پر قحطۍ ځپلو فلسطینیانو، چې د مرستو د وېش مرکزونو ته راټولېږي، بریدونه کړي او د مې پر ۲۷مه د غزې د بشري بنسټ (جي اچ اف) له جوړېدو راهیسې یې سلګونه کسان شهیدان او زرګونه نور ... ۲مخ

## لوګر کې یو جومات او مدرسه جوړېږي

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وايي، چې د دې ولایت د څرخ ولسوالۍ




په نو شهر سیمه کې د سل زره امریکايي ډالرو په لګښت د یوه جومات او دیني مدرسې د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د یاد ریاست ویاند شاهپورعرب باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي چې دغه جومات د یو ترکي وګړي په مالي ملاتړ د سل زره امریکايي ډالرو په لګښت د یوه کال په موده کې جوړېږي چې په یوه وخت کې به د ۳۰۰ لمونځ کوونکو د ځایېدو وړتیا ولري.
نوموړي زیاته کړې، چې په دغه جومات کې د احمدیه په نامه د دیني مدرسې او دارالایتام زده کوونکو لپاره د ډوډۍ خوړلو سالون او اوداسه ځایونو جوړول هم شامل دي.
د یادونې وړ ده، چې احمدیه دیني مدرسه د پوهنې د اسلامي زده کړو آمریت په چوکاټ کې فعالیت کوي او اوس مهال په کې شاوخوا ۲۵۰ زده کوونکي په زده کړو بوخت دي.

## سید عباس عراقچي: ایران به هېڅکله د یورانیمو غني کول و نه دروي

د تسنیم خبري اژانس د راپور له مخې، سید عباس عراقچي د ان بي سي خبري شبکې سره په یوه مرکه کې ویلي: « ایران به هیڅکله د یورانیمو غني کولو کار ونه دروي.» نوموړي زیاته کړې: (( موږ نور نه پوهیږو چې څنګه په امریکایانو باور وکړو. ایران به هېڅکله د یورانیمو د غني کولو په بشپړ بندولو موافقه ونه کړي او اسرائیل باید له متحدو ایالاتو سره له هر ډول خبرو اترو دمخه خپل تیری ودروي.)) ... ۲مخ




## د ترکیې ولسمشر: د نتانیاهو باندې سیمې ته د اور غځولو هڅه کوي



د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د اسلامي همکاریو سازمان کنفرانس کې د ایران پرخاوره د اسرائیلو له لوري بریدونه په کلکه غندلي دي.اردوغان د خبرو پر مهال ویلي دي، چې د نتانیاهو باند د ډیپلوماسۍ په لټه کې نه دی، بلکې هڅه کوي په ټوله سیمه کې اور خپور کړي. تسنیم خبري اژانس د نوموړي له قوله دغه خبر خپور کړی او زیاته کړې یې ده: اردوغان یاد کنفرانس کې د خبرو پر مهال روانه جګړه کې ایران بریالی بللی. دی وايي: د نتانیاهو باند د ډیپلوماسۍ په لټه کې نه دی، بلکې هڅه کوي ... ۲مخ

## له پاکستان او ایران څخه هېواد ته د افغان کډوالو راستنېدنه دوام لري

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون د تېرې جمعې په ورځ له پاکستان او ایران څخه هېواد ته د ۱۲۴۷ راستنېدونکو افغان کورنیو د راتګ خبر ورکړی دی. د یاد کمېسیون دارالانشاء د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي چې د غبرګولي په ۳۰ مه نېټه د تورخم له لارې ۱۰۵ کورنۍ هېواد ته راستنې او د نوموړو کورنیو ۴۷۰ تنه غړي، ثبت او بایومیټریک شوي دي. په تورخم کې همدارنګه په مجموعي ډول له ۸۶ کورنیو سره ۷۱۴ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده. له تورخم څخه پرون ۱۲ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۷۳ تنه وو خپلو ولایتونو ته ... ۲مخ

